(Vahdat)

SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کي دوه ځله خپريږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

دريم كال پنځه لسمه گڼه پرله پسې (۱۱۵) چهارشنبه د ۱٤۱۸هق كال دذوالقعدالحرام (۱۹) ۱۳۷٦ هـ ش كال د كب دمياشتي (۲۷) د۱۹۹۸ميلادي كال مارچ (۱۸)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! . همدا (عدل) ډيـــر نـــږدې دى تقوا(پرهيزگـــارى) ته . (سورة المائدة)

شايعات جلب و احضار جوانان بي اساس است

حين مواجه شدن با چنين افراد شايعه پرداز، انان را به مراجع امنيتي معرفي نمائيد

منابع وزارت دفاع و وزارت داخله

شايعات جلب و احضار جوانان بي اساس بوده و امارت اسلامي در نظر ندارد به چنين اقدامي دست زند.

يك منبع مسوول وزارت امور داخله در اين ارتباط به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت شايعات مبني بر جلب و احضار جوانان از طرف مخالفين امارت اسلامي افغانستان پيش گرديده كه اين موضوع باعث تشويش يك تعداد از مردم شهر كابل گرديده است .

امارت اسلامي افغانستان در نظر ندارد تا جلب و احضار جوانان را آغاز نمايد و اين موضوع كاملاً بي اساس بوده و جزئي از شايعات و تبليغات مخالفين ميباشد.

وزارت امور داخله از تمامي شهريان كابل تقاضا مينمايد تا حين مواجه شدن با چنين افراد شايعه پرداز، آنان را به مراجع امنيتي تسليم نمايند تا مطابق قانون و احكام شرعي مجازات گردند .

همچنين رئيس دفتر مقام وزارت دفاع به خبرنگار هفته نامه شريعت گفت كه : اين شايعات جزء از دسيسه و توطئه هاي دشمنان اسلام و ملت افغان بوده و هدف از آن مغشوش نمودن اذهان عامه در قبال امارت اسلامي مي باشد.

د كندهار ولايت عامه كتابتون پرانستل شو

د عاليقدر امير المؤمنين د پيغام په لوستلو سره د كندهار ولايت عامه كتابتون د ذي القعدي په ۱۸ مه د بوي ستري غونډي په ترڅ كي پرانستل شو .

په هغې غونډه كي چي له همدي امله د كندهار ولايت د اطلاعاتو او كلتور د رياست د كتابتون په انگړ كي جوړه شوي وه لومړي د كلام الله مجيد څو اينونه ولوستل شول وروسته د عاليقدر امير المؤمنين پيغام د كندهار ولايت د اطلاعاتو او كلتور د رئيس محترم ملا عبدالحي مطمئن له خوا ولوستل شو .

وريسې د اطلاعاتو او كلتور وزارت خلورم مخ

دامنه درگيري ها ميان افراد مسعود، رباني و كياني گسترش يافته است

با گذشت هر روز دامنه درگيري ها ميان قوماندان سالاران شوراي نظار مسعود و رباني در مناطق تحت تسلط شان ابعاد گسترده تري را بخود مي گيرد.

در گزارش هاي رسيده گفته شده است كه بر سر استخراج معادن سنگ هاي قيمتي و محصول پاتك ها اخيراً ميان قوماندانان مربوط به گروه مسعود و رباني در گيريهاي شديد در ولسوالي اشكمش ولايت تخار و ساحات مختلف ولايت بدخشان آغاز گرديده است از شدت اين درگيريها كه از دير زماني به اينطرف ميان طرفداران مظفر الدين برادرزاده رباني و نجم الدين واثق

ص ٤ م

مزار در آتش اختلافات ذات البيني مليشه ها ميسوزد

با وصف تلاش هاي مكرر زمامداران ائتلافيون در جهت ميانجيگري بخاطر قطع جنگ و سازش ميان گروه هاي رقيب و دشمن در شمال كشور هنوز از شدت و ادامه درگيريهاي خونين در شهر مزار شريف كاسته نه شده است .

گزارش هاي رسيده به آژانس اطلاعاتي باختر حاكيست درگيريهاي شديد و خونين كه از چند روز بدينسو بر سر كنترول شهر مزار شريف ميان مليشه هاي دوستمي و خليلي آغاز شده هنوز ادامه داشته و شعله هاي آن به قسمت شمالي شهر مزار شريف و مناطق محبس و كارته بخدي سرايت نموده است .

گفته ميشود كه از اثر اين درگيريهاي شديد تعمير مركز اورتوپيدي كميته اي.سي.آر. سي و محل اقـامت كارمندان آن كميته به كلي تخريب و خساره مند گرديده است

در جريان اين جنگ ها دوكانهاي شهر و دفاتر، تعدادي از موسسات خيريه غارت گرديده و افراد مسلح گروه هاي متخاصم از منازل رهايشي و دفاتر موسسات خارجي بحيث پوسته هاي دفاعي استفاده بعمل مي اورد و در محلات غير نظامي اين شهر پوسته هاي دفاعي را افراز نمودند.

در نتيجـه اين جنگ ها تاكنون خسارات و تلفات هنگفتي جاني و مالي به شهروندان شهر مزار شريف و به گروه هاي درگير وارد گرديده است كه رقم دقيق اين خسارات تا حال تثبيت نگرديده است .

در ولسوالي غوربند چـــند قريه از تصـرف مليشــه هاي خليلي پاكـــسازي گــردید

قراي بلور، زار بخشي ، جنت تيري و سنگك ولسوالي غور بند در نتيجه يك حمله دفاعي مجاهدين اردوي اسلامي از لوث مليشه هاي خليلي پاك گرديد.

آژانس اطلاعتي باختر از قول يك منبع مسوول خبر داد .

ص ٤ م

تمرينات تيم ملي پهلواني در كلب خالد بن وليد آغاز گرديد

تمرينات تيم ملي پهلواني طي مراسمي در كلب خالد بن وليد آغاز گرديد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : مراسم با تلاوت آياتي چند از كلام الله مجيد آغاز گرديده سپس محترم الحاج استاد محمد احسان مطمئنْ سكرتر جنرال كميته ملي المپيك و رئيس فدراسيون پهلواني پيرامون اهميت ورزشي صحبت نموده كشتيگيران را متوجه ارزشمنديهاي ورزشي و گسترش رشته پهلواني نموده و مبلغ چهار صد هزار

ص ٤ م

د الخليل په ښار كي د فلسطيني مجـــاهدو او صهيونيستي فوځيانو ترمنځ نښتي وشوې

غزه : د نړيوالو خبري منابعو د خبـر له مخي وبل كيـږي چي د اردن د سيند په لويديځه غاړه د الخليل په ښـار كي د فلسطين او اسرائيلي پوځيانو تر منځ په نښتو كي ۸ تنه سخت ټپيان شوي دي .دا ټپيان ۸ واړه فلسطينيان دي دي .

متحده جبهه او يكي راتولي ولي د اضدادو مجموعه او يو غير فطري تركيب دي

دي جبهي پوري اميد تړل په «اميد» ملنډي وهل دي

ددي جبهي او ائتلاف تاداو د ولس او اسلام د ارمانونو او اهدافو پر خلاف اينبودل شوي دي

سهار ورځپانه

د افغانستان مسئله په ائتلافونو نه حل كيږي

د «نجات!؟» جبهه د شخصي او تنظيمي گټو ښكار شوه

وحدت ورځپانه

د افغانستان په شمال كي د.وروستيو پيښو، د خيالي حكومتونو جوړيدو، د نا متجانسه ائتلافي ډلو تر منځ خونړيو نښتو باندي په پيښور كي خپريدونكو سهار او وحدت ورځپاڼو سر مقالي ليكلي دي چي موږ د سهار ورځپاڼي د كب د مياشتي د ۲۵ مي چي د ذي القعدي د اتلسمي سره سمون خوري گڼي ټوله سرمقاله او د وحدت د ورځپاڼي د همدي ورځي د گڼي خلورم مخ

كورس اداري و حسابي براي كـــارمندان وزارت امور سرحـــدات دايـــر گـــرديد

كورس اداري و حسابي براي كارمندان وزارت امور سرحدات به تاريخ ۱۷ ذي القعده طي محفلي در آن وزارت داير گرديد.

خبرنگار هفته نامه شريعت گزارش داد : در محفل نخست چند آيت از كلام الله مجيد توسط محترم مولوي عبدالمحمود اخندزاده رئيس نشرات آن وزارت قرائت گرديد سپس محترم الحاج محمد ابراهيم عمري معين اول

ص ٤ م

دكابل دنظامي مدرسي (حربي ښوونځي) لوست پيل شو

د كابل د نظامي مدرسي لوست د قرآن عظيم الشان د ختم د مراسمو په ترڅ كي پيل شو .

په هغو مراسمو كي چي له همدي امله په دغي مدرسه كي پر ځاي شوي و د كابل ښار د ډيرو مدرسو استادانو او زده كـوونكو او د اسـلامي امارت ځنو مسؤولينو گډون كړي خلورم مخ

په كندز كي د مخابرې سنترال ودرول شو

په مخابروي چارو كي د اسانتياو د برابرولو په مقصد د ذي القعدي د مياشتي په اتلسمه د كندز په ښار كي د يو لړ مراسمو په ترڅ كي يو سنتـرال ودرول شـو او د استفادي وړ وگرځيد.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : ددغه سنترال د پرانستلو په مراسمو كي د كندز ولايت والي محترم محمد عارف خان ددغه سنترال د اهميت او ارزښت او د هغو اسانتياو په هكله چي په دي برخه كي برابر شوي دي خبري وكړي او ددغه سنترال په درولو او فعالولو كي بي د مخابراتو د وزارت د انجنيرانو د كار او فعاليت درناوي وكړ .

د كندز په ښار كي ددغه سنترال په درولو او فعاليت سره د كندز ولايت د مركزي دايرو تر منځ زياتي تيلفوني اسانتياوي برابري شوي دي.

بحث حقوق العباد در نصاب تعليمي شامل گردانيده شود

رفيق تارر رئيس جمهور پاكستان

لاهور : رفيق تارر رئيس جمهور پاكستان كه در انجمن اخوان اسلام سخنراني مي كرد بالاي استادان فشار زيادي انداخته كه در امر تعليم و تربيه توجه خاص نمائيد. رئيس جمهور پاكستان گفت كه من در يك يادداشت به صدراعظم نوشته ام كه از صنف اول تا صنف دهم يك بحث حقوق العباد در نصاب تعليمي شامل كرده شود.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

سوء تفاهم ؟

خبرگذاري هاي جهان خبر ميدهند كه مزار شريف و حيرتان شاهد برخورد هاي خونين ميان مليشه هاي دوستمي و وحدتي ميباشد كه در جريان اين برخورد ها افراد بي گناه زيادي كشته و مجروح گرديده و تعداد زياد از مراكز تجارتي، منازل مردم و ادارات حكومتي خارجي مورد دستبرد و چپاول قرار گرفته است .

ما در تاريخ اين دوهه اخير كشور خود خاصتاً در پنجسال زمامداري ائتلافيون در كابل به اصطلاحات و واژه هاي جديد آشنا ميشويم كه مبيّن قانوني جلوه دادن تعداد زياد از منكرات شرعي ، اخلاقي و اجتماعي ميباشد، از قبيل اصطلاحات گلم جم، گلم چور، رقص مرده، پيدا و پناه و... كه همه زاده فرهنگ !! مليشه هاي ائتلافي در رأس استاد رباني بوده و آنها عملاً چور، چپاول، تخريب، قتل و قتال و ساير اعمال منافي اخلاق و منافع عامه را تحت اين عناوين و واژه ها به كمال افتخار وسيعاً انجام داده و سلسله آن تا حال به شدت در شمال كشور ادامه دارد . انسان وقتي ميتواند بفهمد كه مليشه ها به اين همه قتل ها چور و چپاول ها و هتك حرمت به نواميس و شرف مردم ارزش و ارجي قايل نيستند و آن را نهايت سطحي و ساده فكر ميكنند كه از آنها طالب عكس العمل در زمينه شوند . آنها در جواب ميگويند كه اين همه قتل ها، چور و چپاول و تخريب هاي گسترده در گذشته ها و فعلاً ناشي از به اصطلاح ايشان سؤ تفاهم ميان برادران !! ميباشد . در حاليكه بد ترين جرم و گناه بعد از كفر در اسلام قتل ناحق و آنهم قتل انسان مسلمان بوده و زشت ترين عمل دزدي و تجاوز بر نواميس ، شرف و عزت زنها ميباشد . پس چطور شده ميتواند كه اين همه منكرات و جرم هاي مكرر در طول اين چند سال زاده سؤ تفاهم باشد؟ و چطور شده ميتواند كه تخريب همه اساسات اقتصادي ، علمي، كلتوري، اداري و سياسي كشور از اثر دوهم مخ

د نظامي استخباراتو اوپراتيفي ډلي يوه اندازه وسلي او مهمات تر لاسه كړل

د نظامي استخباراتو د رياست د اوپراتيفي ډلي او درنو طالبانو د نه ستړي كيدونكو هلو ځلو له امله د كابل ښار په مربوطاتو كي يوه اندازه وسلي او مهمات كشف او تر لاسه شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : په دغو وسلو او مهمـاتو كي د بي ام يو يوه دستگاه، يو ار پي جي ۷ توغندي ويشتونكي، شپږ كلاشينكوفونه ، يو كره بين، دري ډول ډول توماچې ، د توغندي ويشتونكي لس گولي، د زيكويو اته صندوقه گولي، ددوه انيا ملي متري توپ شل گولي دري لوي دوربينونه د كلاشينكوف يو صندوق گولي، ددوه مسيله دولس صندوقه گولي، د كله كوف زرگولي او پنځه لاسي بمونه شامل دي تر لاسه شوي وسلي او مهمات مربوطو مراجعو ته وسپارل شول .

د ملگرو ملتونو په عمومي اسامبله كي به د اسرائيلو په غير قانوني كړنو بحث وشي

نيويارك : د نړيوالو خبري منابعو د خبر له مخي ويل كيږي چي د ملگرو ملتونو يو وينډوي څرگنده كړي ده چي په نيول شو عربي سيمو كي د اسرائيلو په غير قانوني اعمالو باندي د غور كو په نيت د ملگرو ملتونو د عمومي ټولني بيړني غونډه غوښتل شو ده . ددغي بيړني غونډي د جوړيدو غوښتنه د عربي هيوادونو د رئيس توركي كړي ده . په عمومي اسامبله كي به په نيول شو فلسطيني سيمو او ختيځ بيت المقدس كي د اسرائيلو د غير قانو اعمالو په اړه يو قرار داد په مسودي باندي بحث وشي .

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی پهپاکستانکی(۳) کلداری
پوست بکس : (٤۷۱)
په پیښور کي :دطالبانونمایندگيټیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه.

بقیه سرمقاله

سؤ تفاهم به میان آمده باشد؟ و یك واقعه تصادفي و ساده پنداشته شود ؟ وزیر صاحب داخله دولت !؟اسلامي؟ استاد رباني (محقق وحدتي) و جنرال بیگي یکي از جنرال هاي سفاك دوستم، تحولات خونین اخیر مزار شریف ، اطراف و اکتاف آن را که تلفات زیاد جاني و مالي در برداشت نیز یك امر تصادفي ناشي از سؤ تفاهم !؟ خوانده اند .

ممکن بسیاري از منصفین و آنانیکه به مقام و کرامت انسان ارج قایل هستند و وقوع این همه جرم و جنایات تاریخي را اینقدر ساده و بي ارزش تلقي نکرده و بدون محرك و عامل اساسي ندانند و واقعیت هم چنین است که این همه رویداد هاي دلخراش و تکان دهنده آن هم به شکل مکرر تصادفي نبوده و هیچگاه ناشي از سؤ تفاهم شده نمي تواند . البته عوامل عمده و اساسي داخلي و خارجي در پشت این جریانات، مؤثر و در کار بوده و میباشد .

لذا تحولات دلخراش اخیر مزار شریف همچون تحولات چند سال گذشته هیچگاه یك امر ناشي از سؤ تفاهم نبوده و یك عمل تصادفي پنداشته نمي شود ، بلکه عقب پرده، این تحولات علاوه بر اختلافات ذاتي، عقیدوي، نژادي و سیاسي گروه هاي شامل ائتلاف دست قوي از بیرون در کار است که میتوان از روسیه، ایران و ازبکستان بطور عمده و اساسي یاد کرد. هر یك از آنها اهداف و منافع به خصوص خود را در افغانستان دنبال کرده و جهت بر آورده شدن این آمال شوم خود ها گروهي و جناحي را در اختیار دارند و میکوشند تا آنان را قوي، فعال و حاکم بر اوضاع نگهدارند که در این میان ایران و ازبکستان از کشور هاي ذي نفوذ در میان ملیشه هاي شمال میباشند . ایران در میان گروه وحدت، حرکت و قسماً جناح جمعیت از اثر و نفوذ زیاد برخوردار بوده و ازبکستان زمام اختیار ملیشه هاي دوستمي را در دست دارد.

وقتیکه دوستم چندي قبل صحنه را ترك گفته و پناهنده ترکیه گردید دست دراز ازبکستان در آن وقت از افغانستان قسماً کوتاه گردید و ایران توانست خلای که از فرار دوستم به میان آمده بود به تقویه بیشتر وحدت آن را به نفع خود پر کند .

قابل تذکر است که ترکیه هم در منطقه به حیث یك کشور مهم اسلامي اروپایي در سدد پیدا کردن جایگاه خوبي سیاسي و اقتصادي براي خود در منطقه به خصوص آسیایي میانه بوده و آرزوي رقابت با ایران را دارد . دوستم آوانیکه براي بار دوم وارد مزار گردانیده شد ، در برگردانیدن آن ازبکستان ، ترکیه و حتي امریکا و کشور هاي غربي دست و رول فعال داشتند و دوستم توانست که رقیب خود (جنرال مالك) را از صحنه کشیده و موقعیت اولي خود را تقریباً در سمت شمال اعاده نموده و در سدد تصفیه کلي مزار شریف از گروه وحدت وابسته به ایران شد که این امر بالاي زمامداران ایراني گوارا تمام نشده و ایران مقابلتاًدر سدد تضعیف نفوذ رو به تزائد دوستم در شمال شد و براي بر آورده شدن این ملحوظ اخیراً حکمتیار و جلاد معروف (مالك) را به مزار و شمال کشور اعزام داشتند تا توسط حکمتیار تعداد از قوماندان هاي حزب را که فعلاً در کنار جنبش قرار داشته و یا نسبت به گروه وحدت یا جمعیت نزدیکي با جنبش دارند آنها را از کنار جنبش دور نمایند و توسط مالك، رقیب سر سخت دوستم تعداد از ناراضیان و مخالفین قوم ازبك را از دوستم جدا و در کنار مالك قرار داده جبهه، جدید در داخل قوم ازبك براي دوستم تشکیل بدهند و از جانب دیگر براي اینکه از تقویه شدن بیشتر رباني و مسعود در شمال جلوگیري کرده باشند در اختلافات ذات البیني و درگیري هاي مسلحانه اخیر گروه جمعیت و شوراي نظار، ایران بیدخل و اثر نمي باشد زیرا ایران براي حفظ نفوذ خود و اهداف بخصوص سیاسي و اقتصادي که در افغانستان در نظر دارد تنها و تنها اعتماد و باور همه جانبه بر گروه شیعه، هزاره، وحدت دارد و بس . لذا اختلافات و درگیري هاي در مزار و سایر نقاط شمال کشور میان ملیشه ها ناشي از سؤ تفاهم نبوده بلکه روي یك پلان و طرح منظم خارجي به میان آمده و قطع آن به هیچ شکل متصور نبوده بلکه به طور مقطعي این برخورد ها ادامه پیدا خواهد نمود.

امیر المؤمنین و ذمیان

حضرت عمر بن عبدالعزیز براي تحفظ حقوق رعایاي غیر مسلم (ذمیان) به اندازهء ازحسن سلوك و خوبي کار گرفته که مثال و نظیر آن به جز از دور خلفاي راشدین دیگر وقت و زمان دیدهء نه شدهء بود چنانچه یك مرتبه شهزادهء مسلمه بن عبدالملك بالاي یك گروهء عیسوي در مورد زمین دعوي نمود، گروهء عیسوي دعوي خویشرا به محکمه پیش نمودهء و به عدالت ایستادهء شدند .

مسلمه به زعم خانداني خود در چوکي نشسته بود، امیر المؤمنین فرمودند : "اي مسلمه مدعیان شما در عدالت ایستادهء دعواي خویشرا تقدیم مي کنند لهذا براي شما نیز اجازهء نشستن دادهء نمیشود شما نیز ایستادهء شدهء اقامه دعوي کنید"

خلیفه اسلام از فرقین دعوي را شنیدهء و محکمه بر خلاف شهزادهء مسلمه فیصله صادر و حکم کرد تا زمین را به عیسویان تسلیم کند.

پل دی بختور شه!!!

پتی پانی

شهرت ننگیال

حکمتیار صاحب په مزار کي دي، په همدي وخت کي هلته د دوستم او حزب وحدت تر منځ جګړه روانه ده او ښاغلی حکمتیار او رباني شبرغان ته لیږدیدلي دي.

پاکستاني مطبوعاتو د مزار په هوایي ډګر د حکمتیار د کوزیدو یو تصویر خپور کړي، په تصویر کي ده د معمول خلاف لباس اغوستي او د ږیرې سپین ویښتان یې په تورو غالب معلومیږي. سپین ویښتان د عمر یو بل پړاو دي چي حکمتیار صاحب په خیر ور ورسید، ولیدل شي چي د عمر په دغه پړاو کي به دي څومره د خپلو سپینو ږکو پاس وساتي.

خبره د ښاغلي حکمتیار د لباس وه، سړي په څرګنده نشي ویلاي چي ده ایراني توره چپنه اغوستي که پاکستاني شیرواني او یا هم بالاپوش؛ کیداي شي د دغو دریو لباسونو ځیني برخي پکي ساتل شوي وي او یو داسي لباس یې رامنځ ته کړي وي چي هم ایراني رنګ ولري هم پاکستاني نخــ او هم د بالاپوش بڼه اوجوسه، مرحوم غني خان د داسي معشوقي هیله کوي چي په خوي پښتنه او په رنګ ایراني وي ، که دا د یوه فلسفي او لیوني شاعر خوب او خیال دي خو د حکمتیار صاحب د توري چپني ، شیرواني او بالاپوش امتزاج د غني خان هغه هیله د پرون خوب او خیال نه شي ګڼلای، پدي توګه په یوه وخت کي دغو ټولو اړخونو ته د پټو او ښکاره اشارو په حکمتونو او رازونو سړي پوهولاي شي.

مزار ته دده بلني ته مسعود ایران ته تللي ؤ ، حکمتیار صاحب مسعود په کندز کي پخپل ترور تورن کړي ؤ ، د مسعود اوسني بلنه لکه یوه بل ترور ته د حکمتیار دعوت داسي ده .

شاغلي حکمتیار ددغه خبري تصدیق وکړ چي لهمسعود سره يي په ایران کي لیده کاته شوي خو له مسعود نه دده تعبیر په «هغوي» سره ؤ؛ د توم نه اخیستل خپله یوه ځانګړي معنا لري او د «هغه» او «هغوي» تر منځ توپیر هم .

لکه د هغه خان یا پادشاه کیسه چي د خره د کتي اغوستلوته یي د سړو له امله غاړه ایښوده خو د نامه اخستلو ته يي تیار نه و ده وویل له ښاغلي رباني سره په حکومت کي د برخي اخیستلو نیت نلري، خو یوه طرحه ورسره ده او هغه د بیطرفه حکومت د جوړیدو طرحه ده، دي که څه هم د طرحو په وړاندي کولو کي ډېر چست دي خو دده له خولي د بیطرفه حکومت د جوړیدو وړاندیز حیرانوونکي دي؛ ځکه دي په ماضي قریب کي د بیطرفه حکومت ډېر ستر مخالف ګڼل کیده تر دي چي ددغه خبري اوریدو ته هم نه ؤ تیار ، ګکه خويي بیطرف د بي شرف انډول ګاڼه؛ په هر صورت هغه د تورو ویښتانو پړاو ؤ او دا د سپینو : داسي تغییرات که د تورو لاملونو زیږنده ونه ګڼو ددغو پړاوونو محصول بي ضرور ګڼو.

پوښتنه دا ده چي دي به په شبرغان کي څومره وخت اړوي څه به تر لاسه کړي، ځیني وايي چي دي له ایران نه پښي ایستل غواړي او په غالب ګومان چي په پیښور به راوګرځي، په بله وینا ده د ایراني چپني، پاکستاني شیرواني دواړو مسابقه او نمایش وړاندي کړي چي څوك به یي وګټي سړي نه پوهیږي ښاغلي مسعود دده د نه ترور کیدو څه ور واړ او ضمانت ورکړي، په کندز او خپل کلي کي چي په تراویح کــه د مرګ له ګواښ نه په امن نشو په مزار، شبرغان او تالقان کي به څه ډ په امن پښي.

مزار ته د ښاغلي حکمتیارسفر اوازي او ګونګسي دواړه را پورته کړي، جنرال مالك هم په تالقان کي د مسعود میلمه دي . دوستم له حزب وحدت سره په جګړه کیوتي . دوستم د مزار د کنترول په هڅو لګیا دي چي په ائتلاف کي دده وزن او امتیازات ورسره تړلي دي، په بدخشان کي د رباني او مسعود د ملاتړو جنګ دي او حکمتیار صاحب په دغه سره تنور کي د حزب د قوتونو خیره کوي او په ګوړه ګوړه خپله خوله خوږه ساتي.

یواځي د استاد سیاف طوطي ګونګ دي، خاموش او حتي بي درکه دي، د سرچوك او چوك یادګار آوازي هم يي څه نه دي چي حیرانوونکي اوخندونکي دواړه دي، ددغو تبصرو او آوازو له مخي به مزار یا سقوط کوي یا به فتحه کیږي ددي سقوط او فتحي عامل د ښاغلي حکمتیار پل (قدم) ګڼل کیږي، وايي چي دي له هر چا سره مل شوي زوال يي راغلي او په سقوط يي تمام شوي، ددغه پل لومړني نخښه د مزار جګړه ده، د نیك قدم او بد شګون انګیر نه د افغاني فولکلور یوه برخه ده په فولکوریکو کیسو کي د چا قدم بختور ګڼلي شوي او د چا بدمرغه ، معلومه به شي چي د حکمتیار صاحب پل به دا ځل څه را مخي ته کوي.

تقسیمات حقوق از نظر فقه اسلامي

فهیمه «جمیل»

مسلم است که هر چیزي در این جهان تابع قاعده، معین و قانون خاصي است مثلاً آفتاب و مهتاب و ستاره گان همه تحت قاعده، معین هستند که به قدر موي از این قانون تخطي و تجاوز نمیکنند زمین بدور محورش میچرخد و از آن مقدار و میزانیکه از لحاظ زمان و حرکت و سیر براي آن ها مقرر گردیده کوچکترین تغییر و تبدیلي در ان دیده نمیشود آب و هوا ، نور و حرارت همه و همه مطیع نظم خاص میباشند. بنا بر آنچه گفته شد باید دانست این قانون همه جانبه اي که در این جهان حکومت میکند و همه چیز از بزرگترین کره آسمان تا کوچکترین ذره، خاك در زمین مطیع و تابع آن هستند و از اطاعت آن سرپیچي ندارند قانوني است که فرمانرواي جلیل و مقتدري آنرا وضع نموده و آنچه در آسمان و زمین و بین این دو قرار گرفته مطیع و تابع این قانون است در اینصورت باید گفت (همه جهان مطیع و فرمانبردار قانون و امر همان فرمانرواي هستند که آنرا وضع کرده است) با توجه باین معاني روشن و آشکار است که اسلام دین سراسر جهان است و معني اسلام عبارتست از تسلیم و امتثال یعني پذیرفتن امر و نهي امر کننده بدون اعتراض ، روي همین ملحوظ شریعت اسلامي کلید شؤن زندگي اجتماعي انسانها را تنظیم و راه هاي زندگي را براي بشر بیان و علاقات انسانرا با پروردگارش و با همنوعان همجنسش تعین میدارد هیچ چیزي از حکم و تنظیم شریعت اسلامي خارج نمي ماند یقیناً پیروي از هدایات اسلامي و اطاعت از حدود اسلامي و التزام با احکام شریعت اسلامي سبب سعادت کامل انسان در دنیا و آخرت میگردد برعکس عدم اعتنا به هدایات اسلامي و انحراف از قواعداسلامي و اوامر الهي سبب شقاوت و نزول عذاب پروردگار بالاي انسان میگردد.

قبل از انیکه به تقسیمات حقوق از دیدگاه فقه اسلامي بپردازیم ابتدا لازم است معني کلمه حقوق را از نگاه لغوي توضیح و بعداً به اصل مبحث بپردازیم . حقوق از نقطه نظر لفظ جمع حق است. حق ضد باطل و حق نام خداوند «ج» است و هم به مفهوم راست، مستقیم، صداقت واقعیت نیز استعمال شده میتواند.

فقها ، فقه اسلامي حقوق را جداگانه تعریف نموده اند تعریف مختار آن « الشيء الثابت للانسان» یعني : چیزیکه تعلق آن به انسان ثابت باشد حق نامیده میشود همچنین تحت عنوان محکوم بهِ آمده است محکوم بهِ عبارتست از فعل انسان که خطاب شارع به آن تعلق گیرد.

وقتیکه در تعریف حقوق فعل انسان میگویم فعل شامل عمل و قول یعني شامل کردار و گفتار میشود وقتیکه خطاب شارع در تعریف ذکر میشود اشاره به ان است که حق وقتي بوجود میآید که شریعت آنرا ذکر نموده باشد چنانچه بنظر علماي حقوق حق وقتي بوجود میآید که قانون آنرا ذکر کرده باشد و آنچه که احکام شرعي آنرا به حیث حق و یا وجیبه حق و یا وجیبه ذکر نکرده باشد و یا چیزي را مسکون گذاشته باشد بنام«مباح» یاد میشود حقوق از نظر فقه اسلام بدو دسته تقسیم میشود :

۱- حق الله ۲- حق العبد .

حق الله : عبارت از حق خداوند«ج» است بالاي بنده گانش که اطاعت از این حق بر بنده گان خدا«ج» فرض و انکار از آن انسانرا به کفر میکشاند و هم حق الله عبارت از حقوقي است که به منافع اجتماع تعلق دارد و مجازات تخلف از آن غرض حمایه منافع اجتماع وضع گردیده است گرچه در آن منافع فرد هم مضمر است .

حق الله به سه دسته تقسیم گردیده است :

۱- عبادات مانند نماز ، روزه، زکات و غیره .

۲- عقوبات مانند : حد زنا ، حد شرب خمر، حد سرقت و غیره .

۳- حقوق مشترك بین عبادات و عقوبات مانند : کفارت مثلاً کفاره قسم ، کفاره روزه و غیره .

در ممالك غیراسلامي حق الله را بنام حق اجتماع مینامند اما در ممالك اسلامي این حق بنام اصلي اش یعني حق الله مسمي است . این حقوق به سبب اینکه منسوب به خداوند است هیچکس به جز سلطان مسلمین حق عفو، تبدیل و تخفیف مجازات متخلف آنرا ندارد و آنهم به اساس منافع اجتماع، و از طرف دیگر اگر چنان فکر شود که تخلف از این حقوق تخلف در حق الله است باید بیشتر مراعات گردد اما هیچکس نمیتواند متخلف حق الله را از تعقیب جرمي و از اثبات جرم معاف سازد.

حق العبد . غرض از این حق حفظ منافع خاص افراد است گرچه منافع اجتماع نیز در آن ضمناً در نظر گرفته شده است .

باید متذکر شد که تقسیمات بدین اساس صورت گرفته است که آنچه در آن حق الله غالب باشد مانند سرقت، زنا و غیره آنرا حق الله و آنچه حق العبد در آن غالب باشد مانند قتل عمد که مجازات آن قصاص است حق العبد گفته میشود. حق العبد خود به دو شعبه منقسم میگردد : مالي و غیر مالي .

حقوق مالي مانند حق میراث، حق نفقه اولاد و زن بالاي پدر و شوهر و غیره . و حقوق غیر مالي مانند حق طلاق، و حق تربیه اطفال بالاي والدین و حقوق مالي در اسلامي منقسم بدو شعبه اند که عبارت از عین و دین مي باشند. هرگاه حق به یك شي معین تعلق گیرد عین نامیده میشود مانند حق ملکیت جنس در بیع براي مشتري و در صورتیکه حق به ذمه، یك شخص تعلق گیرد دین گفته میشود مانند حق نفقه اولاد بر پدر- با توجه به این تقسیمات روشن و آشکار است که اسلام دین جهانشمول بوده و به فرد ، ملت یا کشوري خاصي ارتباط ندارد و با تطبیق این حقوق در جامعه امن تأمین ؛ عدالت به بهترین وجه عملي خواهد گشت و هم تطبیق این حقوق سبب رستگاري انسان در دنیا و آخرت میگردد.

صوفي كيست و تصوف چيست ؟

دفتر صوفي كتاب و حرف نيست   جز دل سپيد او چون برف نيست
«مولانا»

تصوف و عرفان امر باطني است كسانيكه خداوند تبارك و تعالي را به همه چيز و خداوند«ج» ايشانرا بر همه چيز بگزيند صوفي گفته ميشوند. اين راه را كسي دريابد كه كتاب الله «ج» در يك دست و حديث شريف رسول كريم «ص» در دست ديگر آن يعني پيرو دقيق او امر بوده و از نواهي بپرهيزد. و هم عامل قول و فعل رسول كريم «ص» بوده متخلق به صفات رسول الله «ص» باشد. در روشنايي اين دو شمع (قرانكريم و سنت نبوي «ص») حركت نموده تا نه در مغاك شبهت افتد و نه در ظلمت بدعت.

تعريفات زيادي در اين باره وجود دارد كه درين مقاله گنجايش نداشته و برخي گفته اند كه چون اين قوم صوفيه به تذكيه نفس اماره بالسؤ و تصفيه قلب از صفات مذمومه به اثر جهد و مبارزه با نفس خويش كه جهاد اكبر است پرداخته اند و در بجاي آوردن نوافل(مستحبات) در پهلوي فرايض و اجبات و اداي سنت اهتمام جدي ورزيده و در نتيجه به تزكيه و تصفيه (صفاي باطن خويش) رسيده و به كمال مطلوب و اطمينان قلبي يعني به معرفت اصلي و بنده گي حقيقي نايل آمده اند پس ايشان را صوفي گويند. همچنان عده اي را عقيده بر اين است كه چون ايشان (صوفيه) خود را به اوصاف و صفات اصحاب صفه پيامبر اكرم «ص» به اثر سعي و كوشش آراسته مي نمايند بناً به صوفي شهرت يافته اند.

تصوف: تصوف وجد و حال است، درين مكتب عرفاني به سوز و گداز، عشق و محبت ايثار و فتوت و تزكيه و تصفيه نگريسته شود نه به قيل و قال، بحث و استدلال.

ما بيرون را ننگريم و قال را   ما درون را بنگريم و حال را

و هم هدف از تصوف و عرفان از طريق شريعت واصل شدن بحق بوده و در نتيجه سير و تفكر در آفاق و انفس تسريع بخشيده وجد و حال، ذوق و شوق را در عبادت قوت بيشتر مي بخشد و بالاخره به نحو اسرار آميز به مرحله كشف و شهود، جاري شدن نور عبادت در وجود، بصيرت باطني يعني از علم اليقين به عين اليقين و از آنجا به حق اليقين به مقام قرب حق واصل مي سازد.

و بالاخره تصوف عبارت از اسرار باطني و رموز اعجاز انگيز قران كريم و احاديث نبوي «ص» و نتيجه كشف اوليا الله «ج» است كه بعد از تزكيه نفس و تصفيه قلب و پاك شدن ضمير باطن از ما سوي الله «ج» مستحق مواهب الهي شده و آئينه وجود در اثر صيقل مورد انعام و خواطر رباني و مَلكي گشته است.

تصوف و عرفان

سوال او جواب

گوهری

راته پوښتنې اسلام څه دي ؟
خداي ته ځان تسليمول دي
په خوله ويل د كلمې دي
عبادات پر ځاي كول دي

راته وايې ايمان څه دي ؟
پوخ يقين دي په خداي باندي
چي هر څه ويلي شارع دي
هغه ټول موجود گڼل دي

راته پوښتنې چي لمونځ څه دي ؟
د عشاقو راز او نياز دي
د حسن جانان په وړاندي
خپل تندي په خاك مښل دي

راته پوښتنې روژه څه ده ؟
ځان ساتنه له گناه ده
خبريدل دي له بې وزلو
نه يوا ځې خوله تړل دي

راته پوښتنې زكواة څه دي ؟
د ترتوب يو ستر ازمون دي
د خپل مال خيري ايستل دي
په غريبو رحميدل دي

راته پوښتنې چي حج څه دي ؟
د جانان كوڅې ته تله دي
عرفات كي يار ته ژاړه
له كعبې نه جاريدل دي

«گوهري» ! دا ځواب راكړه
اخلاص څه دي لږ مي پوه كړه؛
خپلې هيلې آرزو گاني
د يار مخكي غورځول دي

شيخ احمد (مجدد الف ثاني كابلي) تابناكترين ستاره تصوف و عرفان در سده ء يازدهم

رهروان — قسمت دوم

حضرت مجدد الف ثاني در سال ۹۷۱ هـ ق در شهر سرهند شريف در سرزمين هند بدنيا آمدند و با كسب علوم تنوع اسلامي در بين علما، فقها و فضلا و ديگر شخصيت هاي اهل كلام و اهل الله سر آمد روزگار گرديدند.

حضرت امام در بين پيروان و ارادتمندان روزگار خودش و بعد از رحلت شان به امام رباني نيز مشهور و معروف است، در نوباوه گي به حفظ قرآن شريف پرداخته و در اندك مدت از حفظ قرآن مجيد فارغ و به كسب و تحصيل علوم شرعي از خدمت والده ما جده خود اكثر علوم را حاصل نمود. كه بتوجه چند روزي، فتح كُلي و ملكي شافي به ايشان روي داد، چنانچه عبارات مُشكل و پيچيده فِقهي را حل و تحقيق و بررسي فرموده و بر بعضي مواضع كتب و رسالات دقيقه، بعبارات و جملات دلكش فصيح حل مشكلات را تحرير و خود نيز بعضي علوم را از علماي جيد و كبّار آن روزگار كسب مي فرمودند.

موصوف نزد مولينا كمال الدين كشميري و استاد مولوي عبدالحكيم سيالكوتي «رح» بعضي كتب متداوله معقول را خوانده و برخي كُتب حديث را از شيخ يعقوب كشميري آموخته است.

شيخ يعقوب كشميري از خلفاي بزرگ شيخ حسين خوارزمي ميباشد.

همچنان حضرت مجدد «رح» در حرمين شريفين نزد محدثين كبار آنجا تصحيح احاديث نموده و نيز از عالم رباني قاضي بهلول بدخشاني و ديگر علماي مشهور آن روزگار علوم مختلف را آموخته است تا انجا كه در طبقه محدثين محسوب گرديدند.

ادامه دارد

حضرت جنيد «بغدادى» بن محمد بن جنيد الخزاز القواريرى

نگارش نور الدين عبدالرحمن

از بزرگان عرفا و علما بود كنيتش ابوالقاسم و مولدش بغداد است حضرت جنيد در ميان عارفان و عالمان به فنون فضايل و صنوف علوم معروف بوده و به مدارج كمالات صوري و معنوي نايل گشته است. استاد وي در علم فقه ابو ثور ابراهيم بن خالد است و نسبت اش در تصوف به سري سقطي و حارث بن اسد المحاسبي و شيخ محمد علي قصاب ميباشد و با بسياري از عرفا و بزرگان صحبت ها داشته است.

يافعي ميگويد كه ابو القاسم الجنيد سيد الطايفه، تاج العارفين، شيخ وقت و فريد عصر بود و شيخ عطار نيشاپوري در تذكرة الاوليا، در حق او نوشته است كه شيخ الشيوخ ابو القاسم جنيد بغدادي عالم بود و امام ائمه جهان در انواع علوم صورت و معني كامل، و در معاملات و رياضات و مكاشفات شامل و در كلمات لطيف و اشارات عالي بر همه سبقت داشت و از اول تا آخر كار پسنديده و محمود و مقبول همه فرق بود و جمله طوايف بر پيشوايي او متفق بودند و سخن او در طريقت صحبت است و به همه زبانها ستوده و هيچكس بر ظاهر و باطن او انگشت نتوانست نهاد و اعتراض نتوانست كرد او مقتداي اهل تصوف و پيشواي اصحاب حال بود نورالدين عبدالرحمن جامي در «نفحات الانس» خويش او را از ائمه و سادات اين قوم عارفين و متصوفين مي داند و بسياري از بزرگان اين طبقه نسبت بوي درست كرده است مانند شيخ ابو سعيد خراز «رح»، ابو محمد رويم، ابو الحسن نوري، شيخ شبلي و غيره.

ميگويند بزرگي از گرسنگي و برهنگي خود در نزد شيخ جنيد حكايت نمود و ي بدو نگاهي كرد و گفت ايمن و آسوده باش زيرا او (خداوند«ج») گرسنگي و برهنگي ندهد الا بصديقان و دوستان خود نه به آنان كه جهان را پر از شكايت كنند.

در اخبار آورده اند كه وقتي بعيادت درويشي از اهل حال رفت، چون بر بالينش بنشست درويش از شدت مرض مي ناليد حضرت جنيد«رح». گفت از چه مي نالي ؟ و از كي مي نالي ؟ درويش جوابي نداشت دم در كشيد حضرت گفت : اين صبر با كي ميكني؟ درويش فرياد بر اورد و گفت : نه سامان ناليدن است و نه قوه صبر كردن. شيخ بدو گفت تفويض در اين كار از همه حال بهتر است.

روحش شاد باد

سير تحول خانقاه و پيدايش آن

تتبع و نگارش از مهر الله دردمند — ۱۱

تعداد زياد از مكاتيب حضرت امام رباني (مجدد هزارم هجري) در موضع جهاد گفتار، تبليغ و بيان حقايق و جواب به سولاتيست كه علماي عرفاني و محققان علم كلام و غيره طالب توضيح و فتوا از همه اطراف و اكناف عالم اسلام شده اند. حضرت موصوف در بكار بردن عناوين و القاب در پاسخ و با دستور براي سلاطين حكمرانان و فقرا يكسان بوده يعني بين سلطان، امير، وزير و وابستگان آنها و ديگران كدام تفاوتي در هنگام ارائه پاسخ به نظر نمي رسد. در اخير بايد گفت كه در معارف، مسايل ضروريه و عقايد ديني و غيره مكتوبات شريف نظير نداشته و بوجود نيامده است.

بعد از بوجود آمدن آباديها و عمران دو باره شهر هاي تاريخي در سرزمين باستاني ما پس از حملات خانمانسوز چنگيزي هاي تاتاري در احياي مجدد عرفان و تصوف و ديگر ابعاد فرهنگي خانواده « آل كرت » در هرات باستان عزم خويشرا در اعمار خانقاه ها استوار نموده و اهتمام زيادي نشان دادند.

تيموريان هرات بعد از آن درين مسير بذل مساعي فروان نموده و درين دوره خصوصاً در زمامداري «سلطان حسين بايقرا» در هرات، بلخ، بخارا، سمر قند، خوارزم، خيوه، مرو، تخارستان، كابل تا نيم قاره هند و سواحل قفقاز(تا تارستان، داغستان، باشكيرستان، چيچينيا) و غيره بلاد (شهر ها) به تاسيس خانقاه ها مبادرت ورزيدند. در رأس آنها مرشداني از طريقت عاليه نقشبنديه شريف كه سلسله معنوي آن به حضرت ابوبكر صديق «رض» صحابي جليل القدر و از آن طريق به تعليمات روحاني پيامبر اكرم«ص» ميرسد به فعاليت آغاز نمود. ايشان پيروان خويشرا به عرفان و تصوف از طريق ارشادات معنوي ذكر خفيه باطني، تزكيه نفس و تصفيه قلب از صفات مذموم مبدل شدن آن به اوصاف محموده در پرتو ارشادات شريعت نبوي «ص» و تحقق اصول طرح شده عارفان بزرگ شرق چون امام عبدالخالق غجدواني و بهاالدين محمد نقشبند بخاري «رح» چون هوش در دم، نظر بر قدم دست بكار و دل بيار و غيره كه تفصيل آن قبلاً تذكر رفته است پى ريزي گرديد. هرات باستان درين مرحله زمان به مركز معنويت فرهنگي علم و عرفان در همه بلاد و عالم اسلام در آن روزگار گرديد.

در ارتقا، فرهنگ و عرفان نقش امير علي شيرنوايي وزير داشنور و فرهنگ دوست سلطان حسين بايقرا كه از جمله مخلصين و ارادتمندان عارف مشهور حضرت نور الدين عبدالرحمن «جامي» «رح» محسوب ميگردند قابل تحسين و ارج بوده و به گواهي تاريخ شهر هرات در آنزمان به مركز تجمع عرفا، فضلا، فقها و متصوفين مبدل گرديده و شهرت جهاني رابخويش كمايي كرد.

بعد از دوره تيموريان هرات سهم ارزنده و قابل مقايسه را در اعمار خانقاه ها تقويه بنيه مالي، موقوفات و مصارف آن زمامداران مغوليان هند(خانواده گوركاني ها) ايفا نموده خدمات قابل قدري را درين دوره جلال الدين اكبر (جهانگير) اورنگ زيب(عالمگير) و ظهر الدين محمد بابر احراز داشته كه تفصيل و نقش خانقاه هاي دوره مذكور در بخش هاي نهم و دهم اين سلسله تا اندازه به تحرير در آورده شده است. خانقاه ها در آن وقت رسوم آداب ويژه خود را داشته پيروان طريقه اربعه تصوف (نقشبنديه، قادريه، چشتيه و سهروردیه) هر كدام به تعليمات تعين شده خويش مصروف و امور مربوطه خود را به نحوي عالي اداره مينمودند.

در دوره زمامداري و سلطنت احمد شاه بابا و پسرش تيمور شاه خانقاه باز هم يك جز، مهم و اساسي را در اداره دولت و غيره امور تشكيل و نقش ارزشمند را در ارتقا فرهنگ معنوي بدوش داشته است. مراسم تاجگذاري احمد شاه بابا در جرگه مشهور (شير سرخ) بدست درويش صوفي مشرب خانقاه (پير صابر شاه كابلي) انجام پذيرفت و انتخاب درست شيخ مذكور در مورد تعين زعيم ملي در تشكيل امپراطوري مقتدر و موسس كشور ما مؤيد گفتار فوق بوده و مهر تائيد را مبني بر تدبير و نقش اهل معرفت بجامي گذارد

(ادامه دارد)

د افغانستان نامتو معاصر متصوفين

لمړى برخه

جناب نور المشايخ حضرت فضل عمر مجددي «رح»

جناب نورالمشايخ حضرت فضل عمر چي په (شير آغا) باندي مشهور ؤ د افغانستان له نامتو ديني علماوو، روحانيونو او مجاهدينو څخه شميرل كيږي چي په دي ډيرو ډگرونو كي يې په ښه ډول د مسابقي ميدان گټلي او بريالي تري وتلي دي.

دا لوي مبارز شخصيت په ۱۲٦۲ لمريز كال د كابل په شوربازار كي چي په بالا كړه سره هم يادېږي زيږيدلي دي چي دده مبارك پيدايښت د افغانستان او ټري د مسلمانانو د پاره د تيكمرغي، بري او فتحي نيك فال او ښه زيري گڼل كيږي دده د نسب لړۍ د اسلام دوهم خليفه حضرت عمر بن الخطاب «رض» ته رسيږي څوك چي د حق او باطل جدا كوونكي، د اسلام او مسلمانانو وياړ يادېده او د همدي عظيم شخصيت په اسلام مشرف كيدلو سره د باطل مزي سست شول او د هغه مبارك له مسلمانيدلو وروسته اسلامي شعاير په ښكاره توگه په مكه مكرمه كي تر سره كيدل.

دجناب حضرت نور المشايخ صاحب د نسب سلسله او لړي په لاندي توگه ښودله كيږي:

۱- حضرت فضل عمر صاحب ۲- حضرت خواجه غلام قيوم ۳- حضرت خواجه غلام صديق ٤- حضرت خواجه عبدالباقي ٥- حضرت خواجه شاه صفي الله ٦- حضرت غلام محمد معصوم ثاني ۷- حضرت خواجه محمد اسماعيل ۸- حضرت شاه محمد صبغت الله ۹ حضرت عروة الوثقي خواجه محمد معصوم اول ۱۰- حضرت مجدد الف ثاني امام رباني شيخ احمد كابلي (سرهندي). ۱۱- حضرت شيخ عبدالاحد ۱۲- حضرت زين العابدين ۱۳- حضرت عبدالحق ١٤- حضرت محمد ايشان ۱٥- حضرت حبيب الله ۱٦ حضرت رفيع الدين ۱۷ حضرت نور الدين ۱۸- حضرت نصير الدين ۱۹- حضرت سليمان ۲۰- حضرت يوسف ۲۱- حضرت عبدالله ۲۲- حضرت اسحق ۲۳- حضرت عبدالله ۲٤- حضرت شعيب ۲٥- حضرت احمد ۲٦- حضرت يوسف ۲۷ حضرت شهاب الدين (فرخ شاه كابلي ۲۸- حضرت نصير الدين ۲۹- حضرت محمود ۳۰- حضرت سليمان ۳۱- حضرت مسعود ۳۲- حضرت عبدالله (واعظ اصغر) ۳۳- حضرت عبد الله (واعظ اكبر) ۳٤- حضرت ابو الفتح ۳٥- حضرت اسحق ۳٦- حضرت ابراهيم ۳۷- حضرت ناصر ۳۸- حضرت عبدالله ۳۹- حضرت امير المؤمنين عمر ابن الخطاب رضي الله تعالي عنه.

نور المشايخ ټول ديني علوم لكه فقه، حديث، تفسير، معاني او نور لوستي وو، خو له ذي كبله چي دي مبارك په تصوف او د روحانيت په ارزښتناكه دنده بوخت او جهادي هلو ځلو مشغول وو نو د تدريس سلسله يې جاري نه وه له ده جناب سره لويولويو متبحر و علماوو ملازمت درلوده لكه شهيد قاضي صاحب عبدالرحمن يغماني مولوي يار محمد او د ځرياتو ملا صاحب فضل الدين او داسي نور.

نوربيا

سيماي تصوف و عرفان در گلزمين كابل

جهيد

كابل شهر زيبايي تصوف و عرفان، گهواره علم و ادب و سرزمين هنر و ثقافت اسلامي است. كابل قهرمان از دير زمان باينطرف باشگاه چهره هاي نوراني علم و معرفت و پرورشگاه متبارز ترين شخصيت هاي ادبي و فرهنگي است. كابل باستان زادگاه علما، مبارز و روحانيون و كانون جاوداني تصوف و عرفان معاصر ماست، و بهترين ادبا، و شعرا، و اهل شريعت و طريقت در آغوش پر عاطفه و محبت انگيز كابل درخشان پرورده شده و زندگي آيده آل خود را با آن همه مباهات و افتخارات تبارز داده اند.

بي مورد نخواهد بود اگر كابل را پايگاه عشق و ادبگاه سلوك، معهد مغفرت و منار معنويت خوانيم. كابل با امتياز داشتن بزرگمردان عرصه تصوف و عرفان، و دانشمندان خبره قلمرو شعر و ادب، دانشگاه طراز اول شهر ستانهاي كشور ماست. اين مرز بوم پر افتخار قافله سالار رويداد هاي تاريخي و سياسي و بيانگر رشادت ها و شهكاريهاي نياكان دلير و آزادمنش مومن و متدين ما است. چقدر بجاست كه شهر كابل را شهر عاشقان و عارفان و گنجينه مفاخر معنوي و روحاني مسمي نموده اند صحابه عصر فرخنده رسالت و تابعين كرام و اوليا، عظام درين شهر آمد و شدي داشتند و آرامگاه حضرات شان درين گستره نور افشاني دارد چون حضرت جابر انصار «رض» تميم انصار «رض» حضرت ليث بن قيس «رض» مشهور به شاه دو شمشيره ولي «رح» عاشقان و عارفان «رح»، باباي خودي«رح» خواجه صفا، نور المشايخ صاحب، حضرت جي صاحب، مير صاحب قصاب كوچه، بابا كيداني و غيره ذوات عاليقدر ميباشد.

در موارد متنوعه معرفت، سيرت مشاهد، فرهنگ، شعر و ادب اسلامي بسا از ارباب ولايت و اصحاب كرامت درين خطه چشم بجهان گشوده و با فيوض معنويت و تجليات روحانيت و احكام شريعت نزد مردمان اين بقعه جاي خاص داشتند و بندگان خدا«ج» را با ارشاد و رهبريت شرعي و روش عرفاني براه راست و شاهراه سعادت رهنمايي مينمودند، هر چار ركن سلسله طيبه طريقت غوثيه، نقشبنديه، چشتيه و سهروردیه با انوار و معارف شريعت، طريقت، معرفت و حقيقت درين خطه از قديم الايام جاري بوده و است و اسلام دين فطرت بشريت در زمان خلافت حضرت عثمان «رض» در سرزمين ما قدوم فرما شده است.

مزارات و آبدات تاريخي و عرفاني كابل زمين همه بيانگر اين افتخارات با شكوه و شناسنامه، شخصيت هاي وارسته و ممتاز تصوف و عرفان، جهاد و ايثار گري است كه درين بحيو حه ميتوان از حضراتي چون صوفي عشقري، استاد بيتاب، استاد بسمل قاري عبدالله شايق جمال، مولينا خال محمد خسته، مير صاحب قصاب كوچه و غيره نام برد.

جرگهء قوم پشه يي حمـــايت شان را از امارت اسلامي افغانستان ابراز داشتند

جرگهء قوم پشه يي طي محفلي حمايت و پشتيبـاني شانرا از اهداف امارت اسلامي افغانستان ابراز كردند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد جرگه كه در رياست نشرات وزارت ارشاد و اوقاف داير گرديده بود با تلاوت چند ايات از كلام الله مجيد آغازشد .

متعاقباً محترم وكيل عبدالرزاق، محترم وكيل قدرت الله ، محترم حاجي محمد علم و محترم عبدالخالق حسيني مسوول پروگرام پشه يي راديو صداي شريعت به نماينده گي از شركت كننده گان جرگه صحبت نموده ضمن حمايت و پشتيباني از اهداف امارت اسلامي افغانستان آماده گي شانرا جهت تحقق آن ابراز كردند .

د شهيدانو او معلولينو د چارو د عمومي رياست د كار كوونكو لپاره اداري كورس پرانستل شو

د شـهـيـدانو او مـعلولينو د چارو د عمومي رياست د كاركوونكو د پوهي د كچ د لوړوالي په خاطر په دغه رياست كي يو اداري كورس جوړ شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي : ددغـه كـورس په افـتتـاحيـه غـونډه كي د شهـيـدانو او مـعلولينو د چارو د عـمـومي رياست لومړي مرستيال د علم او پوهي د زده كړي د اهميت او ارزښت په باره كي خبـري وكړي او د كورس برخه وال يي د مربوطو علومو زده كړي ته راوبلل.

ددغـه كورس چاري په بيلا بيلو برخو كي د شهيدانو او معلولينو د چارو د رياست د مسوولينو له خوا پر مخ بيول كيږي .

متحده جبهه او يكي راټولي دلي د ...

د سرمقالي ځني برخي كټ مټ را اخلو .

سهـار ورځپاڼه په خپلي سرمقالـه كي ليكي :

په شمال كي جګړي او متحده !! جبهه!

دا دريمه ورځ ده چي په مزار شريف او د شمال په ځينو نورو برخو كي درني جګړي او نا آرامي دوام لري. د شمـال ددي وروستيـو جګړو دواړه لوري د هغي ډرامي غړي دي چي د «متحدي جبهي» په نامه معرفي دي. ددغي ډرامي يو بل خندوونكي اړخ دا دي چي اوس دوي ديوه دولت او حكومت خـاوندان هم دي. خو ددغي متحدي جبهي او يا ددغي ډرامي يو تريخ واقـعـيت دا دي چي تر اوسه پوري دوي خـپـلو خـوبونو او د وحت او يووالي خيالونو ته تعبيراومعنيٰنده‌ورکړی.

بوازي څـو ورځي وړاندي ددي جبهي د غونډي غوغا پورته شوه او په دغه ډويه بيړي د ښاغلي حكمتيار د ورسپريدو خبري ډيري تودي سره بدرګه شوي خو دا دي له څه كم او زيات يوي يوي نيـمـي اونـي وروستـه د «متحدي جبهي» او د استاد رباني د حكومت د دوو دريو مهمو لوريو تر منځ بيا يو له بل سره د توپ او ټوپك په خوله خبري پيل شوي

دشمـال د وروستيـو جګړو نتيجه به د كومي ډلي په ګټه او د كومي په تاوان وي ؟ ددي خـوبو لنډ ځواب دا دي چي كـومـه ډله بريالي شوه نو طبيعي ده چي مخالفه ډله بي مـغلوبه او تاواني ده، خو ددي جګړو يوه بله سهي او رښتيني معني دا ده چي متحده جبهه او يكي راټولي ډلي د اضداد و مجموعه او يو غير فطري تركيب دي چي اميد ور پوري تړل په «اميد» ملنډي وهل، دي ، دا لومړي ځل نه دي چي ددي ائتلاف او سره شړيدلي جبهي په منځ كي د جګړي لمبي زور اخلي او زموږ د يو شمير هيـوادوالو د مرګ، ژوبلي او مـالي زيانونو سبب كيږي . دلته هغه د شاعر خبره :

خشت اول چون نهد معمار كج
تا ثريا ميرود ديوار كــــج

مـبه مصداق دي ددغي جبهي او ائتلاف تاد او د ولس او اسلام د ارمانونو او اهدافو پر خلاف ايښودل شويدي، دغه ائتلاف اصلاً پر هيـواد د ځو افراد و د حـاكـميت او د دوي د ارادي د تحميل په خاطر جوړ شويدي ځكه خو نه فطري بنياد لري او نه ورته اتحاد، جبهه او يا د ائتلاف نوم وركول مناسب دي .

مـوږ ځـو ځـله په همـدي كـرښـو كي پردي خبـره رڼا اچولي چي كـاشكي زموږ د هيواد لانجـه د دوو لوريو تر منځ لانجـه واي كاشكي د طالبانو مخالف لوري هم د طالبانو د تحـريك په څـيـر يو مـتحـد او د يوه هدف لرونكي ځواك واي زموږ د هيواد ربړه به بيا ډيره آسانه حل شوي واي اوس خو متاسفانه بوازي په شمال كي يوه داسي متحده جبهه پرته ده چي تر لسو ټوټو هم زياته تجزيه او ويشل شوي ده ، دغه جبهه بوازي د طالب د ځواك له ويري په يوه غولي راغونډه شويده خو پخپله بيا يو داسي معجون دي چي يو د بل سيوري داغي، په تيرو نژدي دوو كلونو او يا په تيرو شپږو كلونو كي چي ددي جبهي د ډلو او مختلفو اړخونو تر منځ څومره خونړي تراژيدي زيږيدلي ولس مو پري ګواه دي، چي د شمال وروستي خونړي جګړي بي‌تازمثال دي .

زمـوږ باور دي چي تر څو په ټول هيـواد كي د شمال په شمول يو مركزي مربوط او با ثبـاته نظام جوړ نه شي او د شـمـال ډلبـازان د ولس ارادي ته تسليم نه شي، د هيـواد ټول لوري د يوه بين الافغاني تفاهم په نتيجه كي د ستونزو حل ته حاضر نه شي هيواد به مو په واروار ددغسي تراژيديو ګواه وي» .

وحدت ورځپاڼه ليكي :

« په افغانسـتـان كي د ائتلافونو ډرامه د ۱۹۹۲ كال نه پيل كيږي او د لومړي ځل لپاره د مجاهدينو په لاس د كابل له سقوط نه څو مياشتي وړاندي د افغانستان په شمال كي د جبل السراج د ائتلاف په شكل كي پيل شو » وحدت ورځپاڼه په افغانستان كي د ائتلافونو پس منظر ته له لنډي كتني وروسته ليكي :« داسي ډير اطلاعات وو چي د متحدي جبهي د مجبوريت په ائتلاف كي يو له بل سره ښكيل شوي او هغه ورځ ليري‌نه‌ده چي دوي به د يو بل پښي وهي او همـاغـه وشـول د څـه چي پيشګويي كيدله يعني د مزار د ښار د كنترول په سر د جنرال دوستم او كريم خليلي د حزب وحدت تر منځ جګړه پيل شوه او دغسي كومه جبهه چي د افغانستان «نجات!؟» په نوم جوړه شوي وه د شخصي او تنظيمي ګټو ښكارشوه دا ائتلافونه د متعلقه تنظيمونو او شخصيتونو د ګټي په خاطر جوړ شوي وو خو تاوان يي د ګټي نه زيات وو كـه څـوك ووايي چي بالكل ګټه يي نه درلودله نو بي ځـايه به نه وي لكه څنګه چي د حزب اسلامي د امير انجنير حكمتيار مشر زوي صلاح الدين حكمتيار هم په دي خبره اعتراف كړيدي چي د دوي ګوند د هماهنګي شوري نه هيڅ ګټه ونه ليدله بلكه د حزب ژوال هم په همدي شوري كي شموليت سره پيل شو.

د ټولو پخوانيو ائتلافونو او د متحدي جبهي دړې وړې كيدلو نه وروسته دا خبره جوته شوه چي د افـغـانسـتـان مسئله په ائتلافونو نه حل كيږي » .

د خوست په ولايت كي د دوه و تنو قاتل ونيول شو

د خوست ولايت په مربوطاتو كي يو قاتل ونيول شو او د قانون منګولو ته وسپارل شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خوست له ولايت نه خبر راكړ : محمد اكبر چي زموږ،دوه تنه كـوچي هيـوادوال يي وژلي و په دي وروستيو وختو كي د خوست ولايت د امنيه قوماندانۍ د امنيتي مسوولينو له خوا ونيول شو او پيښه تر جدي غور او څيړني لاندي ده .

يك مقدار سلاح و مهمات از ولايت ارزگان به دست آمد

يكتعداد سلاح و مهمات اخيراً از مربوطات ولايت ارزگان بدست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : سلاح و مهمات بدست آمده شامل هشت ميل كلاشينكوف ، يك ميل پيشه ، يك ميل تفنگ جاغور دار و يك مقدار زياد مهمات مختلف النوع ميباشد كه به اثر تلاش و فعاليت موظفين قومانداني امنيه ولايت ارزگان از قريه ترينكوت مربوط مركز آن ولايت بدست آمده است .

د كابل ښار په نهمه حوزه كي پنځه تنه ونيول شول

پنځـه تنه غله د نهـمـي حـوزي په مربوطاتو كي ونيول شول .

د بي بي مهرو د سيمي اوسيدونكو ذبيح الله د نور محمد زوي ، سخي محمد د غلام سخي زوي ، عبدالاحد د غلام سخي زوي، غلام حضرت د غلام رسول زوي او نجراب شاه د طوطي شاه زوي چي په دي وروستيو وختو كي يي د كابل ښار د نهمي ناحيي په مربوطاتو كي يو درملتون لوټ كړي و د كـابل ښـار د نهـمي حـوزي د امنيتي موظفينو له خوا ونيول شول.

د قضيي څرنګوالي تر جدي تحقيق او څيړني لاندي د ي.

د كابل د نظامي مدرسي ...

وو دا مدرسه ټولو زده كوونكو ته خبر وركوي چي د كـابل د نظامي مدرسي لوست د ذي القعدي د مياشتي په اللصمه پيل شوي او ټول طالب العلمـان دي چي مـخكي يي نومونه ليكلي دي خپلو درسونو ته حاضر شي او هم هغه طالبان چي په دغي مدرسه كي د شامليدو غوښتونكي دي د ذي القعدة الحرام د مياشتي په پنځه ويشتمه نيټه دي دغي مدرسي ته ورشي.

كورس اداري و حسابي...

وكفيل وزارت امور سرحدات و محترم مولوي عبدالمحمود اخند زاده در ابطه به فراگيري و معلومات بيشتر در بخش هاي اداري و حسابي و ضرورت آن از ګاه دين مبين اسلام روشني انداختند . در اخير آنان ضمن موفـقيت هاي مزيد كاركنان وزارت مذكور، تامين صلح سراسري و تطبيق شريعت غراي محمدي «ص» را د سراسر كشور از بارګاه خداوند متعال استدعا نمودند.

تمرينات تيم ملي پهلواني ...

افغاني را بخاطر تشويق بيشتر ورزشكاران تيم ملي پهلواني كمك نمود.

بعداً محترم مولوي محمد ګلاب مخلص راجع به تسهيلات امارت اسلامي افغانستان به ورزشكاران و توجه و مـواظبت تحـريك اسلامي طلبه هاي‌كرام‌نسبت‌به‌ورزش‌صحبت نمود.

متعاقباً تمرينات تيم ملي پهلواني تحت نظر محترم عبدالرشاد رحيمي آغاز ګرديد.

خبرتيا

د علم او پوهي ټولو درنو مينه والو ته خبر وركول كيږي چي د ميدانښار د كوټه عشرو په سيمه كي مدينة العلم الاسلامية مدرسه نوي طالبان مني.

په دي مـدرسـه كي د پوهو او با تجربه مدرسينو لخوا د قرآن كريم د حفظ تر څنګ د ديني علومو تدريس كيږي .

د زده كوونكو ليليه، اعاشه او اباته او نوري ضروري اسانتياوي د مدرسي د اداري په غاړه دي .

مينه وال دي له دي زرين فرصت نه ګټه واخلي او د نوم د ثبتولو لپاره دي ژر تر ژره د مدرسي اداري ته مراجعه وكړي .

د مدرسي درسونه د ۱۳۷۷ هـ ش كال د حمل په لومړي نيټه چي د ذوالقعـدي د مياشتي له ۲۳مي‌سره‌سمون‌خوري‌پيل‌كيږي.

دامنه درگيري ها ميان افراد ...

از سر كرده گان گروپ شوراي نظار آغاز يافته است تا كنون كاسته نشده است همچنان مليشه هاي كيـان و مليشـه هاي وحدت خليلي و جنبش در شهر پلخمري عليه يك ديگر مواضع گرفته اند كه هر آن احتمال آغاز جنگ هاي شديد ميان طرفين در شهر پلخمري ميرود.

ناظرين سياسي معتقد اند كه ادامه چنين وضع ناهنجار در مناطق تحت تسلط مخالفين امارت اسلامي افغانستان بر انزجار و نفرت مردم عليه مليشه ها و سر دسته هاي آن افزوده است و هر آن احتمال آن ميرود كه مردم مسلمان صفحات شمال كشور به قيام سرتاسري اسلامي عليه مليشه ها متوصل شده و راه بيـرون رفت از اين وضع را تلاش نمايند.

د كندهار ولايت عامه ...

سرپرست محترم ملا امير خان متقي د خپلو ارزښتناكو خبرو په ترځ كي د كندهار ولايت د اطلاعـاتو او كلتـور د رياست د چارواكو د هلو ځلو درناوي وكړ او د كتابتون د لا زياتي ښواينتي او د مطالعـه كوونكو لپاره د اسانتياو د برابرولو په خـاطر يي هغـوي ته لازمي لارښووني وكړلي.

په دي ستره غونډه كي د كندهار ولايت والي محـترم ملا محـمد حسن رحماني د كندهار ښاروال محـترم مولوي دين مـحـمد حقبين ، له مخدره موادو سره د مبارزي عمومي رئيس محترم مولوي عبدالحميد اخند زاده د كندهار پوهنتون د طب پوهنځي رئيس محـتـرم ډاكـتر نور الله همدزد او محترم ملا بهايي جان او د چارو يو زيات شمير نورو مسوولينو ګډون كړي و .

يادونه

ښـايي سـتـاسـو ايمـان به اجـازه ورنكړي چي دا ډول سپيـڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو كښي وغورځوي.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300

د شريعت تبصره

د جلب او احضار ډنډوري

لكه چي ټولو ته معلومه ده په دي دوه وروستيو لسيزو كي اوپه ځانګړي ډول په دي وروستيو پنځو كلونو كي چي په كابل او نورو سيمو باندي د ائتلاقيانو كرغيړنه واكمني تېنګه وه زموږ د هيواد ټول مادي او معنوي بنسټونه يا چور لوټ ويجار شوي او يا هم په ډيره پيمانه زيانمن شويدي چي په دي ترځ كي د يوي منظمي بهرني توطيي او طرحي له مخي زموږ د اردو ټول بنسټونه هم ويجاړ او ټول مادي او تسليحاتي شتمني يي كباړ او په بهرنيو هيوادونو وپلورل شوي چي په دي دوه و لسيزوكي حتي د افغانستان په تاريخ كي دا جبران نه منونكي ضايعه د ټولو نه لويه پيښه او بده تراژيدي ګڼل كيږي .

دطالبانو اسلامي تحريك او د افغانستان د اسلامي امارت دا خپله ديني او ملي دنده او وجيبه بولي چي د افغانستان د بيا ودانولو د پراخه پلان په ترځ كي له ټولو نه لومړي جدي پاملرنه او توجه د اسلامي اردو احيا او بيا جوړوني ته وكړي او دا هم جوته ده چي دا كار ساده او اسان نه دي بلكه لويي مادي او تسليحاتي توانايي او بشپړي بشري، تخصصي، فني پوهي او تجربي ته اړتيا لري خو له دي سربيره بيا هم اسلامي امارت د خپل مادي او معنوي توان او استطاعت په چوكاټ كي دي ديني او ملي دندي ته پوره توجه كوي او كلك عزم يي كړيدي چي د خداي په نصرت او دافغانستان د مسلمان او مجاهد ولس په مرسته د ولس او اسلامي امارت دي لوي ارمان ته د عمل جامه ورواغوندي چي د اسلامي امارت دي تاريخي او لوي اسلامي او ملي اقدام زموږ بهرني او داخلي دښمنان له ډيري لويي وارخطايي سره مخ كړيدي او مذبوحانه هلي ځلي كوي چي د بيلا بيلو لارونه دا پروسه تخريب كړي او يا په دي هكله د افغان ولس په اذهانو كي انديښني پيدا كړي، چي دوي د خپل تبليغاتي د كمپاين په دي پړاو كي زموږ د مسلمانو خلكو او په خاص ډول د كابل د مسلمانو او مجاهدو خلكو په منځ كي داسي ګونګسي او تبليغات تاوده كړيدي چي ګواكي اسلامي امارت په همدي ترځ كي د اردو د جوړوني لپاره د ځوانانو د جلب او احضار نيت لري چي د تبليغاتو دا لړۍ زموږ د ځينو مسلمانو كابليو ورونو په منځ كي د پوره تشويش او انديښني لامل شويده . دا جوته ده او ټول دا مني هم چي د ملي اردو افرادي ځواك او تشكل د تير وخت په څير په عنعنوي توګه د جلب او احضار له لاري څخه تر سره كيدلي شي او په دي هكله زموږ له مسلمان او مجاهد ولس هيڅ سوال او تشويش نه شته دي ځكه چي د جلب او احضار موضوع افغانانو ته كوم نوي او نا اشنا مفهوم نه دي او نه له عسكري او د مكلفيت د دوري له تيرولونه ويره لري بلكه په تيرو وختونو كي يي عملاً كلك ثبوت وركړيدي چي د هيواد د اسلامي او ملي ګټو او د خپلي خاوري د مځكني بشپړتيا د ساتني لپاره هري قرباني ته چمتو دي.او د افغانستان د پخواني منظم اردو پاسبانان هم د مكلفيت د د دوري له مخي تاكل كيدل . خو د اسلامي اردو د بيا احيا كولو د پلان كار لا تر اوسه دي پړاو ته نه دي رسيدلي چي جلب او احضار ته دي اړتيا پيښه شوي وي ځكه چي دا پروګرام او پلان تر اوسه خپل ډير ابتدايي پړاوونه تر سره كوي او پوخوالي او د عمل په ډګر كي پلي كولو ته يي ډير وخت پاتي ده نو بايد يو ځل بيا ووبل شي چي په هيڅ صورت د اسلامي اردو د احيا پلان دي پړاوو ته نه دي رسيدلي چي جلب او احضار ته اړتيا وليدل شي د جلب او احضار اوازي او ګونګسي تنها او تنها زموږ د ولس د كورنيو او بهرنيو دښمنانو لخوا خپري شويدي .

تر څو دوي په خپل ګومان وكولئ شي چي ددي عظيمي حياتي پروسي په وړاندي چي اسلامي امارت تر لاسه لاندي نيولي ده د خلكو په اذهانو كي تشويش او انديښني وزيږوي او له دي پروسي سره د خلكو مرسته او همكاري زيانمنه كړي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press